# د کاظم خان شېدا
# د ديوان چاپي متون: تنقيدي جائزۀ
## (دمتن څېړنې د اصولو په رڼاکښې)

**A Critical Analysis of Edited Texts of Kazim Khan Shaida's Devan**
**(In the light of established principles of textual criticism)**

**Dr.Abdullah Jan Abid**[1]

**Abstract:**

Textual studies of Pashto classical poets have gained velocity in recent years. Kazim Khan Shaida is a classical poet of Sabk.e.Hindi tradition in Pashto. His Divan has been edited by four different scholars over an extended period of time. This article is a textual critique of all the four edited versions of the Divan. Following the established principles of textual criticism, these editions of the Divan have been closely studied, critiqued, compared and contrasted in the light of established principles of textual criticism in the present article. The present article is significant in order to bring classical literature back into academic debates.

د کاظم خان شېدا ديوان په اول ځل په **۱۹۵۲**ء کښې د عبدالرؤف بېنوا په تدوين او تصحيح پښتو ټولنې کابل او په دوېم ځل په **۱۹۲۵**ء کښې د همېش خليل په ترتيب او تدوين ادارۀ اشاعت سرحد پېښور نشر کړی دی. بيا په درېم ځل د سيد انوارالحق له اردو ترجمې او شرحې سره يونيورسټي بک اېجنسي پېښور خپور کړی دی، چې د خپرونې کال پرې درج نۀ دی، خو ځينو منابعو کښې ئې د خپرونې کال **۱۹۲۲**ء (۱) راغلی دی. وروستو له دې په **۲۰۰۵**ء کښې دانش خپرندويه ټولنې دشيدا ديوان د حنيف خليل په تدوين شائع کړی دی، چې تر اوسه د شېدا د ديوان وروستی چاپي متن دی.

د کاظم خان شېدا ديوان د عبدالرؤف بېنوا په تدوين: د کاظم خان شېدا د ديوان دا متن د درېو خطي نسخو له مخې ترتيب شوی دی، چې

---

[1] Dr. Abdullah Jan Abid Assistant Professor Pakistani Languages Allama Iqbal Open University, Islamabad

اساسي نسخه ئې د اسلامیه کالج پېښور د خطي نسخې نقل دی. دغه نقل مدون ته خان عبدالولي خان لېږلی ؤ. د متن دوېمه نسخه د کابل پښتو ټولنې ملکیت دی، چې نیمګړې ده او مخفف ئې "پ" دی. د متن درېمه نسخه د مولانا ابوالوفا ده چې مدون ئې تفصیل داسې ښودلی دی:
"یوه نسخه په ۱۳۲۵هـ کال په پېښور کښې د اکبر پورې د عبدالمستعان کاتب په خط نقل شوې ده. چې له هغې نۀ بیا په ۱۳۴۰هـ ق کال مولانا ابوالوفا صاحب په قندهار کښې یوه نسخه (نقل) کړې ده او بیا له هغې نه دا نسخه په ۱۳۱۵هـ ش کال حبیبي د ځان دپاره استناخ کړې وه" (۲) د دې نسخې مخفف "ح" دی.

د دې دیوان د سر ورق په شا مخ د پوهاند صدیق الله رښتین د "سر خبرې" راغلې دي. بیا د مدون مقدمه په یوویشت مخونو (د الف مخ نه تر ش مخه پورې) خپره ده، چې عنوان ئې "د شېدا پېژندګلوي" دی او دې پسې د شېدا خپلې مقدمې نهه مخونه (۱ نه تر ۹ مخه پورې) نیولي دي، متن د ۱۰ نه تر ۲۲۱ مخ پورې راغلی دی، چې د مندرجاتو ترتیب ئې داسې دی: ثنا او مناجات، د پښتو شعر حسب حال، غزلیات، رباعیات، مخمسات، قصائد، منقبات، قطعات او متفرقات. بیا په پائې کښې غلط نامه ورکړې شوې ده چې په څلورو مخونو (الف تا د) خپره ده.

د دې دیوان په مقدمه کښې د شېدا د ژوند او فن په باب بحثونه او په متن کښې د استفاده شوؤ تعارف (تر څۀ حده) هم شته او د متن څېړنې د روشونو سره سم د دغو نسخو د مخففاتو وضاحت هم. دغسې متن ته حاشیې هم لیکلې شوي دي چې نسخه بدلې پکښې هم ښوولی شوي دي او ځای په ځای پکښې د متني امورو په باب لنډ وضاحتونه هم راغلي دي. خو د دغو ښېګڼو سره سره ځینې کموتونه هم په دې تدوین شوي متن کښې تر سترګو کېږي، چې په لاندېنو کرښو کښې په نخښه کولی شي:

- د دې چاپي دیوان د تدوین څخه وړاندې په ځینو کتابونو او تذکرو کښې د شېدا د ژوند او فن په باب لیکنې او څېړنې راغلې دي، چې نومونه ئې دا دي:

الــف: "د مولــوي قـــدرت الله شـــوق رامپـــوري تـــذکره " تکملـــة الشـــعراء هند (۱۱۹۲هـ)،

ب: د امیر مینائي تذکره "انتخابِ یادګار (۱۲۹۰هـ)".

ج: د میجر راورټي Selection from the poetry of the Afghans (۱۸۷۲ء)

د: د حافظ احمد علي تذکره "کاملانِ رامپور".

هـ: د نجم الغني رامپوري تاریخ اودهـ

و: د عبدالحي حبیبي پښتانهٔ شعراء (۱۹۴۱ء)

پــه پاســنیو کتــابونو کښــې د شــېدا د ســوانحي کوائفــو پــه بــاب ځینــې نکــات او معلومــات داســې هــم شــته، چــې د تامــل وړ دي. پکــار دا وه چــې د زېــر بحــث دیــوان مــدون اومقدمــه نګــار دغــه نکــات او معلومــات د تــاریخي حوالــو پــه رڼــا کښــې ســنجولی وی او د هغــې یــوه مســتنده محاکمــه ئــې د شــېدا د دیــوان لوســتونکیو، مــتن پوهــانو او مــتن څېړنــې طالــب علمــانو تــه وړانــدې کــړې وې. خــو متأســفانه د دغــې دیــوان پــه مقدمــه کښــې مــونږ پــه دې حوالــه هــېڅ داســې څــهٔ نــهٔ وینــو چــې د شــېدا پــه بــاب دشــوو کــارونو اوڅېړنــو تــذکره یــا جــائزهٔ راوښــائي. د یــوې موضــوع پــه بــاب دشــوو کــارونو جــائزهٔ (Literature Review) د ریســرچ مېتودولــوجۍ یــوه داســې بنیــادي غوښــتنه ده، چــې د هغــې نــه بغېــر هــېڅ کلــه هــم یــوه څېړنــه بشــپړه کېدی نهٔ شي.

- پــه مقدمــه کښــې چــې د مــتن د کومــو درېــو خطــي نســخو معرفــي راغلــې ده. هغــه د تــدوین د متعینــو اصــولو او روشــونو لــه مخــې نیمګــړې ده. د اسلامیه کــالج د نســخې (کومــه چــې د مــتن اساســي نســخه ده) د تعــارف پــه لــړ کښــې یــواځې دا وئیلــي شــوي دي چــې: "نقــل ئــې د عبــدالولي خــان پــه ذریعــه تــر لاســه شــو. نســخه بیخــي بشــپړه ده، خــو ځــای پــه ځــای املائــي غلطۍ لري" (۳)

خــو د نســخې د نــورو متنــي مواقفــو او معارضــو پــه بــاب د مقــدمې منــدرجات خــاموش دي. د پښــتو ټــولنې کابــل د نســخې پــه لــړ کښــې پــه مجمــوعي حېثیــت د دوهٔ خبــرو وضــاحت پــه مقدمــه کښــې راغلــی دی چــې یــو

د نسخې د املا په باب دی او دویم د هغې د نیمګړتیا په باب. د دریمې نسخې (د مولانا ابوالوفا نسخه) تعارفي کلمات هم هغه دي کوم چې د دې بحث په پیل کښې کټ مټ راوړې شوي دي او د نسخې متني مواقف او معارض پکښې نۀ دي ښوولی شوي.

- د زېر بحث دیوان متن د شېدا د کلام د ټولو دستیابو منابعو سره نۀ دی پرتله شوی. د مثال په طور د مېجر راورټي په معروف تالیف "ګلشن روه" کښې د کاظم خان شېدا ۳۸ غزلې انتخاب (د **۱۳۵** مخ نه **۱۴۸** پورې) شوي دي. د متن څېړنې د روشونو له مخې لازم وه چې د شېدا د دیوان متعلقه غزلې ورسره پرتله شوې او نسخه بدلې ئې په حاشیو کښې ښوولې شوې وې.
- د شېدا په دیوان کښې چې کومې تاریخي قطعې راغلې دي، د هغو د ځینو مادو څخه تاریخونه نۀ دي استخراج شوي. د مثال په توګه په متن کښې د محمود خان او میا عمر صېب د مړینې په باب د دؤ دؤ قطعو او د خوشحال (شهید)، حافظ رحمت خان، میر معصوم او د مور (چې په قطعه کښې ورته د والدې په ځای سهواً والد لیکلی شوی دی) د مړینې په باب د یوې یوې تاریخي قطعې د مادو څخه تاریخونه نۀ دي استخراج شوي. دغه شان د "واقعې تاریخ" تر عنوان لاندې تاریخي قطعه هم د کال د استخراج څخه محرومه ده. بله دا چې د کومو پېښو او شخصیاتو د مړینې په باب چې دغه تاریخي قطعات وئیلي شوي دي، په هغو کښې یواځې یو نوټ د "خوشحال" په باب په حاشیو کښې لیدی شي او د نورو په باب هېڅ وضاحت په حاشیو کښې نۀ دی شوی. شېدا په پښتو کښې د سبکِ هندي نمائنده شاعر دی ځکه نو مشکل پسندي او باریک بیني ئې د شاعرۍ خاص وصف دی اوله دې سوبه ئې په شاعرۍ کښې عربي، فارسي او هندي لغات او تراکیب هم خورا ډېر دي.خو متاسفانه د متن مدون فرهنګ ته نۀ دی متوجه شوی، ځکه نو د شېدا د دیوان دا ایډیشن د فرهنګ له اهتمام څخه هم محروم دی.
- په دیوان د چاپ کال په دوؤ مختلفو ځایونو کښې مختلف لیکلی شوی دی. د مثال په توګه د دیوان په انرټائټل د چاپ کال ۱۳۳۱

هـ ش درج دی، چـې د عیسـوي کـال د ۱۹۵۲ء سـره سـمون خـوري. بیـا د دیـوان پـه پـائې کښـې د چـاپ کـال ۱۳۳۳هـ ش درج دی چې د عیسـوي کـال د ۱۹۵۴ء برابر دی.

د بحـث پـه پـای کښـې بایـد ووئیلـی شـي چـې د کـاظم خـان شـېدا د دې دیـوان د تهیـې پـه وخـت پـه بشـپړه توګـه د تـدوین د اصـولو پېـروي نـهٔ ده شـوې، ځکـه نـو پـه مقدمـه کښـې ئـې د خطـي نسـخو تعـارف هـم نیمګـړی دی، مـتن ئـې هـم د ټولـو دسـتیابو منـابعو سـره نـهٔ دی پرتلـه شـوی، د ځینـو قطعـو د تـاریخي مـادو څخـه پکښـې کلونـه هـم نـهٔ دي اسـتخراج شـوي او مـتن د فرهنـګ لـه اهتمـام څخـه هـم محـروم دی. خـو د دغـو بیـان شـوؤ کموتونـو بـاوجود هـم د دې دیـوان د دې حېثیـت څخـه انکـار نـهٔ شـي کېـدلی چـې دا د شـېدا د دیـوان وړومبـی تـدوین شـوی مـتن دی، چـې پـه درېـو خطـي نسـخو کښـې د شـېدا راغلـی کـلام ئـې د پښـتو مـتن څېړنـې د روایـت او تاریخ برخه ګرځولې ده.

## دیوانِ کاظم خان شېدا د همېش خلیل په تدوین

د کـاظم خـان شـېدا دا دیـوان د یـوې خطـي او یـوې چـاپي نسـخې لـه مخـې ترتیـب شـوی دی. خطـي نسـخه ئـې د "ادبـي ټـولنې پېښـور" د لائبرېـرۍ ملکیـت اوچـاپي ئـې پـه کابـل کښـې د عبدالرؤف بېنـوا پـه تـدوین خپـره شـوې نسخه وه.

د دې دیـوان د منـدرجاتو تفصـیل او ترتیـب دا دی: پـه پېـل کښـې فهرسـت او پـرې پسـې پـه درېـو مخونـو (هــ، و، ز) د شـېدا د دیـوان پـه بـاب د مـدون لنـډې خبـرې راغلـي دي. بیـا ۲۱ مخونـه ( دح نـه تـر غ مخـه پـورې) د مـدون مقـدمې (کـاظم خـان شـېدا او د هغـهٔ فـن) او نهـهٔ مخونـه (د ۱ نـه تـر ۹ مخـه پـورې) د کـاظم خـان شـېدا لیکلـې مقـدمې تـه وقـف دي. د ۱۰ مـخ نـه تـر ۲۲۳ مخـه پـورې د دیـوان مـتن راغلـی دی، پـه ۲۲۴ مـخ یـوه ضـمیمه ورکـړې شـوې ده چـې د کتابـت نـه پـاتې یـو غـزل او یـوه ربـاعي پکښـې ثبـت دي، د ۲۲۵ نـه تـر ۳۲۸ مخـه پـورې فرهنـګ او ورپسـې پـه څلـورو مخونـو (۳۲۹ مخ نه تر ۳۳۲ پورې) غلطنامه ورکړې شوې ده.

د زیرِ بحث دیوان مقدمه په څو حوالو د اهمیت وړ ده. وړومبی دا چې په دغه مقدمه کښې د شیدا د ژوند په باب ځینې نوي نکات د دیوان د داخلي شهادتونو او اشارو په رڼا کښې سپړلي شوي دي، چې د دې نه وړاندې د شیدا په باب شوؤ څېړنو کښې ورته توجه نهٔ وه شوې. دویمه دا چې په دغه مقدمه کښې د شیدا د شاعرۍ په لړ کښې چې کومه درنه تنقیدي تبصره راغلې ده، هغه د خپل اسلوب او بیان له لحاظه بالکل یکتا ده. په پښتو ادب کښې، نهٔ تر دغې تنقیدي تبصرې څخه وړاندې او نهٔ وروستو داسې کومه تنقیدي تبصره زما له نظره تېره شوې ده. چې هم هغسې اسلوب ؤلري، کوم چې د شیدا د کلام وصف او اختصاص دی. تر مقدمې چې ورتېر شو نو په متن کښې ځای په ځای د تخریج امورو ته هم توجه شوې ده. متعلقه شعرونو ته د قران پاک ایتونه او حوالې په حاشیو کښې درج کړې شوي دي. دغسې د پخوانو شاعرانو د مطلعو په تضمین چې کومه منظومه په دیوان کښې راغلې ده، په هغې کښې چې د کومو شاعرانو د کلام مطلعې شیدا راوړي دي، د هغو د دیوانونو نه ئې د متعلقه مطلعو نشاندهي په حاشیو کښې کړې ده. په دغو کښې د رحمان بابا، خوشحال ختک، حمید بابا او عبدالقادر ختک دیوانونه شامل دي. تر متن وروستو چې د شیدا د دیوان کوم فرهنګ ورکړې شوی دی، هغه ته د شیدا د کلام د اولني فرهنګ اعزاز حاصل دی، ځکه چې له دې څخه وړاندې مونږ ته د شیدا د کلام کوم بل فرهنګ نهٔ دی معلوم.

کهٔ څهٔ هم د شیدا د دیوان دا ایډیشن د لوړو بیان شوؤ محاسنو په حواله ممتاز دی. خو د متن څېړنې د روشونو په رڼا کښې ځینې کموتونه هم لري چې په دې لاندې کرښو کښې پرې بحث کوؤ:

- دَ زیرِ بحث دیوان په متن کښې چې د "ادبي ټولې پېښور" د لائبرېرۍ د کومې خطي نسخې څخه استفاده شوې ده، د هغې تعارف په مقدمه کښې نهٔ دی ورکړی شوی.
- په مقدمه کښې نهٔ د متن د تصحیح د مېتود وضاحت شوی دی او نهٔ د استفاده شوو نسخو له پاره مخففات ټاکلي شوي دي.

- په متن کښې کۀ څۀ هم د دؤ نسخو څخه استفاده شوې ده، خو په ټول متن کښې د نسخه بدلو اهتمام نشته، ګویا دواړه نسخې په خپل نص کښې د یو بل سره هېڅ توپیر نۀ لري.
- د اسلامیه کالج هغه نسخه چې عبدالرؤف بېنوا ئې د نقل نه د شېدا د دیوان د تهیې په وخت استفاده کړې وه، ضرور مدون ته معلومه وه ځکه چې د بېنوا د چاپي دیوان نسخه د هغوي تر مخې وه، پکار وه چې مدون ترې نېغ په نېغه استفاده کړې وې، دغسې به د دې چاپ متن په باور او اعتبار کښې اضافه شوې وه.
- د ګلشن روه هغه اتۀ دېرش غزلو سره هم د متن د متعلقه غزلو پرتله ضروري وه، د کومو ذکر چې په پاسنیو کرښو کښې شوی دی، خو متاسفانه داسې نۀ دي شوي.

په زېرِ بحث متن کښې ځنې ګډوډۍ او بې احتیاطۍ هم تر سترګو کېږي. د مثال په طور د متن په ۹۸ مخ د یو غزل (مطلع: په سپین مخ چې توري زلفې جانان پرېږدي + تماشې ورته د ورځې ماران پرېږدي) د بېتونو په تسلسل کښې هغه رباعي هم ورکړې شوې ده، کومه چې د رباعیاتو په برخه کښې د متن په ۱۷۷ مخ او ۱۴۵ نمبر ضبط ده. خو د دې باوجود هم مذکوره غزل ته مدون دغه حاشیه لیکلې ده: "د قافیو د بدلون په وجه د دې غزل شپږم او اووم شعر د دې غزل نۀ معلومیږي." (۴)

خو دغه شپږم او اووم شعر یو مکمله رباعي ده، نۀ د کوم بل غزل شعرونه – رباعي ملاحظه کړئ:

چې د زلفو سیه مار په رخسار پرېږدي
د عرق دانو در له بیمه ریږدي
ګویا صبح د قیامت شو هسې شور دی
چې خپل تېغ لکه خورشي په چرخ کېږدي

د بحث په محاکمه باید ووئیلی شي چې د کاظم خان شېدا د دیوان د متن د تهیې په وخت د تدوین د ځنو اصولو پیروي شوې ده. لکه په زړۀ پورې مقدمه پرې لیکلې شوې ده، تخریجي امور ته ئې توجه شوې ده او فرهنګ ورته مرتب کړی شوی دی. خو د دغه فن ځینې اصول پکښې نظر

انداز شوي دي لکه د متن په مقدمه کښې نۀ د خطي نسخې تعارف شوی دی او نۀ د متن د تصحیح د مېتود وضاحت پکښې شوی دی. دغسې نۀ د متن په حاشیو کښې نسخه بدلې ښودلی شوي دي او نۀ د متن ټولو دستیابو منابعو ته د استفادې له پاره رجوع شوې ده. لکه د اسلامیه کالج خطي نسخه، ګلشنِ روه او پښتانۀ شعراء وغېره.

دیوان کاظم شېدا مع اردو ترجمه و تشریح (مرتب او مترجم) سید انوار الحق

د کاظم خان شېدا د دیوان دا چاپي متن مدون د درېو نسخو له مخې تهیه کړی دی، چې په ابتدا کښې د مندرجاتو یو مفصل فهرست (د **۵** مخ نه تر **۱۴** مخه پورې) لري. په دې پسې په دوه مخه (**۱۵**، **۱۲** مخونه) د ډاکټر غلام جېلاني برق لیکلی "حرفِ تعارف"، بیا د مولانا عبدالقادر پېش لفظ (د **۱۷** مخ نه تر **۲۱** مخه پورې) او پرې پسې "کاظم خان شیدا اور اِن کی شاعری" (د **۲۳** مخ نه تر **۳۴** مخه پورې) تر عنوان لاندې د حمزه شنواري یو علمي لیک راغلی دی، چې د دیوان د ترجمې او وجودي او شهودي فلسفې په باب بحثونه پکښې شوي دي. بیا د سید انوارالحق دیباچې **۲۲** مخونه (د **۳۵** نه تر **۵۲** مخ پورې) د شېدا خپلې مقدمې، سره د اردو ترجمې **۲۰** مخونه (د **۱** نه تر **۲۰** مخه پورې) او د دیوان متن سره د اردو ترجمې او تشریحاتو **۱۰۳۹** مخونه (د **۲۱** مخ نه تر **۱۰۲۰** مخه پورې) نیولي دي.

د کاظم خان شېدا د دې زیر بحث چاپي دیوان خپل اهمیت دی، چې مدون سره د اردو ترجمې خور کړی او د شېدا د کلام د ذائقو سره ئې د نورو ژبو خلق اشنا کړي دي، د ژبې د بیان او انداز له رویه د دې ترجمې خپل خوند او رنګ دی، چې د ذوق خاوندان ئې ادراک کولی شي.

شېدا مشکل پسند او باریک بین شاعر دی، ځکه نو د هغۀ کلام ژباړل او په تشریحاتو کښې د هغۀ د کلام باریک نکات سپړل، د مدون یوه داسې کارنامه ده چې یواځې له هغوي سره خاص ده. دغه شان د دې دیوان مقدمه هم د اسلوب، تکنیک، موادو او معلوماتو په لحاظ خپل اختصاص لري، خو د متن څېړنې د روشونو په حواله په دې دیوان کښې ځنې خبرې لیدی شي، چې د تأمل وړ دي.

- د ښاغلي همېش خليل دمدونه ديوان په بحث کښې چې د کوم غزل او رباعۍ تذکره شوې ده، د هغو حال دلته هم هغه دی کوم چې د همېش خليل په مدونه ديوان کښې دی، اوګورئ د زېرِ بحث ديوان ۵۵۰ او ۱۰۳۷ مخونه.

دلته دې دا خبره ياده وي چې هر کله د همېش خليل په تدوين کړي ديوان او په دې زېرِ بحث ديوان کښې دا بې احتياطي زما تر سترګو شوه، نو د عبدالرؤف بېنوا تدوين کړی ديوان مې هم ورپسې وکتلو، خو د ښاغلي بېنوا د تدوين کړي ديوان کومه نسخه چې زما په واک کښې وه، د "ی" د پټهۍ ځينې مخونه (د ۱۱۷ نه تر ۱۲۸ پورې) پکښې لوېدلي ؤ يا شايد د بائنډنګ په وخت پاتې شوي وي. بهر حال دغه مذکوره غزل پکښې نۀ ؤ.

- د ديوان متن چې د کومو درېو نسخو له مخې تيار کړې شوی دی. د هغو بشپړ تعارف په ديباچه کښې نۀ دی شوی او يواځې د يو مائکرو فلم حاشيه ښوولې شوې ده.
- د متن د تهيې په باب د مدون دا لاندې ويناهم د تامل وړ ده:

"کچھ عرصہ ہوا افغانستان میں پشتوٹولنہ نے شیدا کا دیوان ٹائپ میں چھپوایا ہے. مگر وہ ادھورا ہے البتہ کہیں کہیں قلمی نسخے اُس کی نقل در نقل شدہ، جو تحریف و تبدیل کے دستبرد سے محفوظ نہ رہ سکا اور سہو کتابت سے مجروح ہوتا رہا، پائی جاتی ہیں. چنانچہ ایک قلمی نسخہ اسلامیہ کالج پشاور کے اورینٹل لائبریری میں موجود ہے. دوسرا نسخہ انڈیا آفس لائبریری لندن سے دستیاب ہوا اور تیسرا مائکرو فلمی نسخہ پشتو اکیڈیمی (پشاور یونیورسٹی) کو حاصل ہوا ہے. چنانچہ یہ نسخہ جو آپ کی زیر مطالعہ ہے، تینوں نسخوں سے مقابلہ کرکے ہر جہت سی مکمل کیا گیا ہے." (۵)

په دې اقتباس کښې مدون د زېرِبحث ديوان د يو چاپ (د کابل چاپ) يادؤنه کړې ده. خو استفاده ئې ترې نۀ ده کړې او يواځې د دوؤ قلمي نسخو او يو مائيکرو فلم څخه ئې متن تهيه کړی دی. خو په دې لړ کښې د تعجب خبره دا ده چې په متن کښې د نسخه بدلو له پاره د حاشيو هېڅ اهتمام نۀ دی شوی، ګويا درې واړه نسخې په خپل نص کښې د يو بل سره هېڅ توپير نۀ لري. په دغو حوالو وئيلی شو، چې د زېرِ بحث متن د تهيې په وخت د تدوين ځنې اصول او شرائط نظرانداز شوي دي.

## د کاظم خان شېدا دیوان د حنیف خلیل په تدوین

د دې دیوان بنیادي نسخه هغه ده، کومه چې د اسلامیه کالج پېښور دَ لائبرېرۍ ملکیت دی. د مدون د وینا تر مخه دغې بنیادي نسخې سره نورې چاپي نسخې موازنه کړې شوې دي.

د زېرِ بحث دیوان مندرجات په دې لاندېني ترتیب دي:

د خپرندویې ټولنې یادښت (یو مخ)

سمون لیک (یو مخ)

سریزهٔ + اخځلیکونه (دا مخ نه تر ۳۹ مخه پورې)

د شېدا مقدمه (د ۴۰ مخ نه تر ۵۰ مخه پورې)

متن (د ۵۱ مخ نه تر ۴۲۲مخه پورې)

ضمیمه (د ۴۲۳مخ نه تر ۴۲۹مخه پورې)

یادښتونه (نوټونه) (د ۴۷۰ مخ نه تر ۴۸۳ مخه پورې)

وییپانګه (د ۴۸۴ مخ نه تر ۴۹۵مخه پورې)

د دې دیوان په مقدمه کښې د شېدا د سوانحي کوائفو په باب ځنې نوي نکات رامېنځ ته شوي دي، چې محققینو له پاره د بحث نوې دروازې پرانزي. په دغه مقدمه کښې د متن د اساسي نسخې بشپړ تعارف راغلی دی، چې د نسخې ټول متني مواقف او معارض پکښې ښوؤلی شوي دي، تر اوسه چې مذکوره نسخې نه کومو مدونینو استفاده کړې وه، هغوي ئې یواځې یوه لنډه او عمومي غوندې یادؤنه کړې وه. د مقدمې نه پرته د دې دیوان په متن کښې د شېدا څهٔ اضافي کلام هم راغلی دی، چې کریډټ ئې د دې دیوان مدون ته ځي، خو د دغو ښېګڼو سره سره په دې تدوین شوي دیوان کښې ځنې کموتونه هم تر سترګو کېږي چې په لاندېنو کرښو کښې پرې یو ځغلند نظر اچوو:

● د ضمیمې په باب د مدون وېناده چې: "په ضمیمه کښې هغه کلام راغلی دی چې په چاپ دیوانونو کښې یو یا یو نه زیاتو کښې نهٔ دی راغلی. دلته د مشخص کېدلو په خاطر بېل په ضمیمه کښې ولیکل شو" (۲)

خو په ضمیمه کښې دا رباعي هم راوړې شوې ده:

لــــه دې انځـــوره چـــې څـــوک بيـــرون دی
لار ئـــې ده صـــافه همـــوار ئـــې يـــون دی
هـــر ځـــای بـــه پـــروت وي پـــه شـــان د مـــزی
همـــــه دلــــدل دی درســـــت شـــخېدون دی

چـې مـدون ورتـه پـه ۲۱۸ يادښـت کښـې ليکلـي دي چـې: "د انوارالحـق ديوان کښې نشته" (۷)

خـو دغـه يادښـت سم ځکـه نـۀ دی چـې مـذکوره ربـاعي پـه يـاد شـوي ديوان کښې (په ۸۸۰ مخ په ۲۵۴۱ نومره) سره د اردو ژباړې راغلې ده.

تـــر هغـــه چـــې د غنچـــې مـــژه ونـــه وي
عنـــدليب پـــه بـــاغ وراغ کښـــې رســـوا نـــۀ وي
پـــه چمـــن کښـــې د افګـــارو نـــوا نـــۀ وي
هـــيڅ تشـــويش پـــه زړۀ د درد و دوا نـــۀ وي
تـــل دې ســـتادخواب الودوســـترګو خـــواب وي
چـــې فتنـــه پـــه خـــواب اوده شـــي ډېـــر ثـــواب وي

دغـه بنـد د ديـوان پـه ۴۴۲ مـخ، "د رحمـان بابـا د مطلع پـه تضـمين" تـر عنـوان لاتـدې پـه يـو مسـدس نظـم کښـې راغلـی دی، چـې مـدون ورتـه پـه ۲۰۱ يادښـت کښـې ليکلـي دي چـې: د شپږومصـرعو دا پـوره بنـد د انوارالحق ديوان کښې نشته" (۸)

د يادښـت بـرعکس مـذکوره بنـد د انوارالحـق پـه ديـوان کښـې پـه ۲.۱۰۰۵ مخونـو، سـره د اردو ترجمې شـته، خـو د مصـرعو ترتيـب ئـې بـدل دی. د بند د مصرعو ترتيب په دې ډول دی:

پـــــه چمـــــن کښـــــې د افګـــــارو نـــــوا نـــــۀ وي
هـــــيڅ تشـــــويش پـــــه زړۀ د درد و دوا نـــــۀ وي
عنـــــدليب پـــــه بـــــاغ و راغ کـــــښِ رســـــوا نـــــۀ وي
تـــــر هغـــــه چـــــې د غنچـــــې مـــــژه وا نـــــه وي
تـــــل دِ ســـــتا د خـــــواب الـــــودو ســـــترګو خـــــواب وي
چـــــې فَتنـــــه پـــــه خـــــواب اوده شـــــي ډېـــــر ثـــــواب وي

د ســــــترګو دې اثــــــر کـــــــړی دی
عینـــــک لــــه کومـــــه نظـــــر راوړی دی
نظـــر حـــس ئـــې د تـــا دی حرکـــت هـــم دی
زنـــده چـــې ګـــورم پـــه مثـــال مـــړی دی

دغـه رباعي هـم د مـتن پـه ځـائی ضـمیمي (466 مـخ) تـه وړې شـوې ده. د مدون د وینا تر مخه: دغه رباعي د انوارالحق دیوان کښې نشته(۹).

خـو د انوارالحـق د دیـوان پـه 904 مـخ دغـه ربـاعي سـره د اردو ترجمـې مندرج ده.

بـــاد مـــې یوســـي لـــه کـــوره څـــۀ شـــي
پـــاتې ئـــې خـــاورو لـــه مـــا هـــېڅ نـــۀ شـــي
پـــه هـــوا نـــاڅم لکـــه غبـــار هســـې
احـــوال کـــۀ دادی هـــر ځـــائی مونـــدۀ شـــي

دغــه ربــاعي هــم پــه ضــمیمه (مــخ 467) کښــې درج ده او دمــدون دوینا ترمخه: دانوارالحق په دیوان کښې نشته(۱۰).

خــو دمــدون د وینــا بــرعکس مــذکوره ربــاعي ســره داردو ترجمــې دانوارالحــق پــه ایــډیټ کــړی دیــوان کښــې پــه 892 مــخ او 2607 نــومره باندې درج ده.

چـــې د زلفـــو ســـیه مـــار پـــه رخســـار پرېـــږدي
د عــــرق دانـــــو در لـــــه بیمــــــه ریـــــږدي
ګویــــا صـــبح د قیامـــت شـــو هســـې شـــور دی
چـــې خپـــل تېـــغ لکـــه خورشـــي پـــه چـــرخ کېـــږدي

د زلفـــو ســـیه مـــار پـــه رخســـار پرېـــږدي
د عــــرق دانـــو دُر لـــــه بیمــــه رېـــږ دي
ګویــــا صـــبح د قیامـــت شـــو هســـې شـــور وي
چـې خپـل تېـغ لکـه خورشـید پـه چـرخ کېـږدي

پاسنیو شعرونو ته مدون په ۲۲۰ یادښت کښې لیکلي دي چې: دا شعرونه د انوارالحق، همېش خلیل او بېنوا دیوانونو کښې یو بل غزل سره یو ځای راغلي دي(۱۱)

خو درج شوی یادښت نیمګړی ځکه دی چې دغه شعرونه په یادؤ شوؤ دیوانونو کښې دوه دوه ځله راغلي دي. یو ځل د ذکر شوي یادښت مطابق او دوېم ځل د رباعیاتو او قطعاتو په برخه کښې. د وضاحت دپاره وګورئ د بېنوا د مرتب دیوان ۱۴۷ مخ، د همېش خلیل د مرتب دیوان ۲۵۳ مخ او د سید انوارالحق د دیوان ۱۰۳۷ مخ.

- د مقدمې په ۳۵ "مخ د نسخې د کتابت د نېټې په باب لیکلی شوي دي چې: "د لیکلو نېټه ئې ۷ صفر ۱۱۹۲هـ د جمعې ورځ ده". خو وړاندې په ۳۲ مخ د نسخې د "ترقیمې" کوم عبارت چې نقل کړې شوی دی هغه داسې دی: "بتاریخ هفد هم شهر صفر بروز جمعه سن ۱۱۹۲هجري". د دغې عبارت تر مخه د صفر د میاشتې کوم ۷ تاریخ چې په وړومبني اقتباس کښې ورکړی شوی دی، هغه سم ځکه نهٔ دی چې د "هفدهم شهر صفر" ترجمه ۱۷ میاشت د صفر ده، نهٔ چې ۷ میاشت د صفر.

در شعر مه بیچ و در فن او
که اکذب او ست احسن او

پاسنی شعر په ۴۵ مخ د شېدا په لیکلې مقدمه کښې راغلی دی. چې د وړومبۍ مصرعې توری "مه بیچ" ئې هېڅ معنٰی نهٔ ورکوي. د انوارالحق مرتب دیوان کښې هم دغه توری "مه بیچ" راغلی دی، خو درست لفظ "مپیچ" دی، چې د ښاغلي عبدالرؤف بېنوا او ښاغلي همېش خلیل دیوانونو کښې راغلی دی.

دل می تپد ونیست کسی رادرس ما
از قافله دور است خروش جرس ما

د مقدمې بل شعر دی چې په ۴۱ مخ راغلی دی. د وړومبۍ مصرعې "راد" محل نظر دی. درست توری "داد" دی. چې توجه ورته نهٔ ده شوې. بله دا چې د شعر د دوېمې مصرعې قرات د اسلامیه کالج په

نسخه کښې داسې نۀ دی څۀ رنګه چې دلته راوړی شوی دی. د اسلامیه کالج په نسخه کښې مصرعه په دې عبارت راغلې ده:

از قافله دور است خود صدای جرس ما

د دیوان په مقدمه کښې د شېدا د زوکړې په نېټه چې کوم بحث راغلی دی، دهغې څنې نکات محلِ نظر دي. زمونږ د ادبي تاریخ په څنو منابعو کښې د شېدا د زوکړې نېټه **۱۱۳۵**هـ تا **۱۱۴۰**هـ یا، د دې تر مېنځه ښوؤلې شوې ده. د دیوان مدون دغو نېټو سره اتفاق نۀ لري او د خپل بحث اولنی نکته ئې داسې سپړلې ده:

لکه څنګه، چې د شېدا په اړه د راوړتي ورکړی شوي نور معلومات هم د باور وړ نۀ دي دغسې د هغۀ د زېږېدو د کال دغه تخمینه هم درسته نۀ ښکاري، ځکه چې څنې تاریخي پېښې او شواهد ئې مرسته نۀ کوي، کۀ د تاریخي پېښو او شواهدو نه د شېدا د زېږېدو سهي کال معلوم نۀ شي ولې دومره ترې ضرور معلومېږي، چې هغه د کال **۱۱۴۰**هـ خو څۀ، چې د کال **۱۱۳۵**هـ کال نه هم مخکښې پېدا شوی دی، د دغو تاریخي پېښو ذکر د دې مسئلې د روښانولو دپاره ضروري ګڼم، چې په دې ډول دی:

(۱) د هندوستان تذکره نګار حافظ احمد علي خان شوق رامپوري په خپله تذکره "کاملان رامپور" کښې د قدرت الله شوق رامپوري د تذکرې په حواله لیکلي دي چې:

"نادر شاہ کے حملہ ہندوستان کی تاریخ" غم عام "(۱۱۵۱ھ) سے نکالی"

ژباړه: "په هندوستان د نادر شاه د حملې تاریخ ئې د "غم عام" نه **۱۱۵۱**هـ راویستی دی".

د دغې پېښې د تاریخ ذکر د شېدا په حواله ښاغلي امیر مینائي هم په خپله تذکره "انتخاب یادګار" کښې کړی دی.

د شېدا د دیوان په اوسنیو چاپو او ناچاپو نسخو کښې د دې واقعې تاریخ نشته. شېدا خپل دیوان په ۱۱۸۱هـ کال ترتیب کړی دی او هغه تر **۱۱۹۴**هـ کال پورې ژوندی ؤ. ممکنه ده چې د خپل ترتیب کړي دیوان نه وروسته ئې دغه تاریخ وئیلی وي او وروسته کاتبانو په دیوان کښې

شامل کړی وي، خو هر کله چې دوه مستند تذکره نګار ئې ذکر کوي نو د دې مطلب دا دی چې د شېدا د ديوان کامله نسخه تر اوسه زمونږ لاس ته نۀ ده راغلې، خو دومره معلومه ده چې هغه د دغې پېښې تاريخ هم وئيلی دی. ممکنه ده چې شېدا دا تاريخ د واقعې د پېښېدلو سره نزدې وئيلی وي او دا هم امکان لري چې دا تاريخ ئې څۀ موده وروسته وئيلی وي، خو زيات امکان هم د دې خبرې دی چې څنګه واقعه پېښه شوې ده په هم دغه دور کښې شېدا تاريخ وئيلی دی، ځکه چې د تاريخي پېښو تاريخونه عموماً په هم هغه دور کښې وئيلی شي. او چې خبره داسې ده نو بيا د شېدا د زېږېدو تاکلي تاريخونه هم مشکوک کېږي، ځکه چې شېدا کۀ په ۱۱۴۰هـ کال پېدا شوی وي نو په ۱۱۵۱هـ کال به د هغۀ عمر يوولس کاله جوړ شي. د يوولسو کالو په عمر کښې تاريخ وئيل، خو څۀ چې د هغۀ شاعري پېل کېدل هم امکان نۀ لري او کۀ چېرې شېدا په ۱۱۳۵هـ کال هم پېدا شوی وي نو په ۱۱۵۱هـ کال به د هغۀ عمر شپاړس کاله وي او د شپاړسو کالو په عمر کښې هم د دغې پېښې تاريخ وئيل ذهن نۀ مني. د دې مطلب دا دی چې شېدا په ۱۱۵۱هـ کال ضرور يو بالغ نظره شاعر ؤ او چې خبره داسې ده نو بيا هغه ضرور د ۱۱۳۵هـ کال نه ډېر مخکښې پېدا شوی دی"(۱۲)

لوړ درج شوی اقتباس د څنو مغالطو ښکار دی. د اقتباس په شروع کښې مدون دا قياس کوي چې: ممکنه ده شېدا د خپل ترتيب کړي ديوان نه وروستو دغه تاريخ وئيلی وي او وروستو کاتبانو په ديوان کښې شامل کړی وي. بيا دا وائي چې: خو زيات امکان هم د دې خبرې دی چې څنګه واقعه پېښه شوې ده، هم په دغه دور کښې شېدا تاريخ وئيلی دی. ځکه چې د تاريخي پېښو تاريخونه عموماً په هم هغه دور کښې وئيلی شي". او بيا د وروستي قياس په بنياد ئې خپل بحث وړاندې بوتلی دی. په دې لړ کښې بنيادي او د توجه وړ خبره دا ده چې د پښتو اکېډمۍ پېښور يونيورسټۍ په لائبرېرۍ کښې چې د شېدا د ديوان د کومې نسخې مائکرو فلم موجود دی. د هغې د يو مخ په يوه څنډه دا عبارت راغلی دی: ثاني الحال کۀ د ديوان نقل څوک اخلي، په هغه الفاظ و

کلمات باید چې نسخه او بدل کشلی شوی دی، بویه چې الفاظ و کلمات و متون موقوف شي و په عوض ئې د حواشی الفاظ و کلمات ثبت شی. والسلام ۱۳ محرم ۱۱۸۷هـ / ۱۷۷۳ء(۱۳)

دا لوړ راوړی شوی عبارت د شیدا په خپل قلم دی او د هغهٔ د دیوان د هغې نسخې د مائکرو فلم څخه اخستی شوی دی په کومه چې شیدا په ۱۱۸۷هـ کښې دوباره نظر کړی ؤ. هر کله چې په مستند دلائلو شیدا خپل دیوان، هم په خپله په ۱۱۸۱هـ کښې مرتب کړی دی او بیا په ۱۱۸۷هـ کښې ئې پرې نظرثاني هم کړې ده. نو بیا ولې د ۱۱۵۱هـ یا د هغې په نزدې موده کښې د "غم عام" په حواله وئیلی شوی کلام پکښې نهٔ لیدی کیږي. د شیدا د نسخې دا داخلي شهادت د مدون دا مفروضه رد کوي چې شیدا به دغه تاریخ په هغه وخت کښې وئیلی وي، کله چې واقعه پېښه شوې وي.

دوېمه دا چې د اسلامیه کالج د لائبرېرۍ نسخې په ځای باید مدون د تدوین د روشونو له مخې هم دا مائکرو فلم نسخه د خپل تدوین اساسي نسخه ګرځولی وی، چې د مصنف د خپل قلم تصحیحات پکښې شوي دي.

- مدون د خپل تهیه کړي متن موازنه او مقابله د عبدالرؤف بېنوا مرتب دیوان سره نهٔ ده کړې او سوب ئې دا بیان کړی دی چې دغه چاپ کړی دیوان د اسلامیه کالج د نسخې مطابق نهٔ دی، دیوان نیمګړتیاوې لري او د مصرعو او الفاظو شکل ئې هم د موجوده نسخې سره بدل دی خو دا خبره د متن څېړنې د روشونو له مخې سمه نهٔ ده. ولې چې د کوم دیوان د اخري مدون منصب دا وي، چې خپل متن د موجودو چاپي او قلمي نسخو سره موازنه کړي، نیمګړتیاوې ئې په ګوته کړي او نسخه بدلې ئې په حاشیو کښې ضبط کړي.
- د شیدا د دیوان د نورو چاپي متونو په څېر په دې متن کښې هم د ګلشن روه د هغه ۳۸ غزلو سره د متن متعلقه غزلونه نهٔ دي پرتله شوي. باید مدون ورته متوجه شوی وی.

د دیوان په مقدمه کښې په متن کښې د استفاده شوو نسخو دپاره محففات نۀ دي ټاکلي شوي، چې معاصره متن څېړنه ئې غوښتنه کوي.

اوس چې مونږ د شېدا د ټولو چاپي دیوانونو په باب دغه بحث راغونډوؤ، نو په لنډو به دا ووایو چې دغه ټول چاپي دیوانونه د متن څېړنې د روشونو په رڼا کښې د ځنو کمیو او بې احتیاطو سره مخ دي.

د بېنوا او انوارالحق دیوانونو کښې د نسخو تعارف نیمګړی دی او د همېش خلیل دیوان کښې د خطي نسخې تعارف هډو راغلی نۀ دی.

دغسې د همېش خلیل او انوارالحق تدوین کړو دیوانونو کښې د نسخه بدلو ښودلو اهتمام نۀ دی شوی. د بېنوا ایډت کړی دیوان د فرهنګ څخه محروم دی. ټولو مدونینو په ګلشن روه کښې د شېدا راغلی کلام نظرانداز کړی دی او د خپلو متونو موازنه او مقابله ئې ورسره نۀ ده کړې. دحنیف خلیل د مدونه دیوان حاشیې په ډېرو مواردو کښې د اعتبار وړ نۀ دي او د حقائقو برعکس اطلاعات پکښې ورکړې شوي دي. دغسې په دغه متن کښې ځای په ځای تسامحات هم تر سترګو کیږي او مقدمه ئې هم په ځنو ځایونو کښې د مغالطو ښکار ده. ځکه نو د دغې محاکمې په رڼا کښې وئیلی شو، چې د کاظم خان شېدا د دیوان د یو باوري انتقادي متن تهیې ته اړتیا لیدی شي، چې د شېدا د دیوان ټولو چاپي او خطي منابعو نه پکښې په دقت سره استفاده وشي.

***

# حوالې


۱. پردل ختهک، پشتو سی اردو تراجم (توضیحي کتابیات، حصه اول)، اسلام اباد، مقتدره قومي زبان، 1986ء، 21 مخ
۲. عبد الرؤف بېنوا، د کاظم خان شېدا دیوان، پښتو ټولنه، کابل، ۱۳۳۱ هـ ش، ش مخ
۳. عبد الرؤف بېنوا، د کاظم خان شېدا، ر مخ
۴. همېش خلیل، دیوانِ کاظم خان شېدا، ادارهٔ اشاعتِ سرحد، پېښور، ۱۹۲۵ء ۹۸ مخ
۵. انوار الحق، سید، دیوانِ کاظم خان شېدا مع اردو ترجمه و تشریح، یونیورستي بک ایجنسي، پېښور، ۴۲ – ۴۳ مخونه
۶. حنیف خلیل، د کاظم خان شېدا دیوان، دانش خپرندویه ټولنه، پېښور، ۲۰۰۵، ۴۲۳ مخ
۷. حنیف خلیل، د کاظم خان شېدا دیوان، ۴۸۳ مخ
۸. همدغه، ۴۸۲ مخ
۹. همدغه، ۴۸۳ مخ
۱۰. همدغه، ۴۸۳ مخ
۱۱. همدغه، ۴۸۳ مخ
۱۲. همدغه ۲ – ۴ مخونه
۱۳. انوار الحق، سید، دیوانِ کاظم خان شېدا مع اردو ترجمه و تشریح، ۴۳ مخ